SPINTA

## دساپي پر شعر باندې څو سر خلاصوونکې خبرې

مفتاح الدين «ساپی» داتر خپل عمر زيات ځرېدلی شاعر چې لکه هندي مرتاضان د باندې کرار او دننه لکه د ځمکې د تل اور شيندی، بې تېکه او ناکراردی، د شعر ددغه دفتر په هستولو، دداسي شاعرانو په کتار کې درېدلی چې د زړې نړۍ دبدلولو جنګ ته راوتلي او د انقلابي شعر جنډه يې جګه کړې ده. ساپي د لوړو تحصيلاتو،اوچتې ادبي قريحې او د انګليسي ژبې د خپلولو له لارې، تر افغاني ادب ور هغه خوا، د ادبياتو عامه نړيواله تجربه هم تر لاسه کړېده او د يوشمېر غربي شاعرانو آثار يې پښتو کړي او خپاره کړي دي. افغان ادب پېژندونکي اروا ښاد محمد صديق«روهي»مفتاح الدين ساپی د «ويښتيا» د پړاو د ادبي څېړونکي په توګه معرفي کړی دی. د پوهاند روهي ددې خبرې په استناد، ساپی پر هستوونکي ادب بر سېره، دڅېړونکې ادب د ډګر کار کوونکی هم دی. زه له ساپي سره نيږدې دېرش کاله د پېژندګلوۍ ،دوستۍ او همکارۍ سابقه لرم. ده ماته د نېکۍ نظر له مخې دخپلو شعرونو دغه دفتر « دپرهرونو ډالۍ » د سر خبرو د ليکلو لپاره راواستوله او زه که څه هم په وروستنيو کلونو کې دادبي تنقيح او چڼنې له شغل څخه لرې شوی يم، خود ارادت له مخې مې دده غوښتنه ومنله او دغه سر خبرې مې د اخلاص د توښې په توګه دده «دپرهرونو ډالی » ته ډالی کړې.

## نوی او زوړ ، انقلابي اونا انقلابي شعر

د شعر پر دفترونو باندې په سر خبروکې ،د اکاديميکو څېړنو لپاره ځای نشته، خو په پښتني ټولنه کې، د شعر د بهيرونو اوښوونځيو په باره کې د څېړنو د لنډون په سبب، دا ضروري برېښي چې دنوي شعر او په ځانګړې توګه د پښتو د انقلابي شعر په باره کې څو لنډې، کره او سرخلاصوونکې خبرې وشي.

فکري بهيرونه که هنري وي، که مذهبي،که اخلاقي او يا

SPINTA

د ادبي ښوونځيو په څېر، د تاریخ دماڼی په تیاره تاخانه کې زیږي او په چوپیاکې بې چیغو او نارو خپله لومړنی وده سر ته رسوي. نوی هنري خوځښتونه هغه وخت دمنل شویو بهیرونو په توګه پېژندل کېږي چې دزاړه په مقابل کې ځان راڅرګند کړي او دهغه دریځونه ولړزوي.

زوړ له نوي سره په شخړه کې دغښتلیو عواملو له ملاتړ څخه برخه من وي، لکه دودونه، د تجربوغښه زېرمه، پیاوړی ټولنیز دریځ او په ټولنه کې عملي رول. نوی باید زغم ولري تر څو په ترخو ماتو کې تجربه لاس ته راوړي، له خپلو تېرو تنو څخه د عبرت درس واخلي، دجوړ جاړي چم زده کړي، دریځونه تر لاسه کړي او د زاړه دځای ناستي دریځ خپل کړي. دا اوږده لار ده، دهغې لنډونه دانسان د ارادې تابع نه ده او صبر غواړي. د مولانا جلال الدین محمد بلخي په خبره: «مهلتی بایست تا خون شیر شد». داکزستانسیالیزم د بنسټ ایښودونکو له منځه، الماني فیلسوف «هایدګر» دغه مطلب په فلسفي ژبه داسي بیان کړی دی: «تاریخ یو داسي مطلق او شنډ بیان ته ورته دی چې لارویان له هغه څخه د تېرېدو او مقابلې لپاره باید له رواقي زغم څخه کار واخلي.»

یو له بل څخه د پر له پسې ټولنیزو بهیرونو پیل او پای، هیڅکله هم په پرېکنده کرښو نه سره جلا کېږي بلکې نوی د زاړه په قلمر وکې زېږي، دهغه په ګاونډ کې وده کوي او د هغه په موجودیت کې د تکامل پر لورې لومړني ګامونه اخلي او دهیګل په خبره« نوی دزوړ په انتي تېزبدلېږي او په یوه اوږده شخړه کې هغه له ډګر څخه باسي» یعنی د هغوی خپل منځي رابطه داسي ساده نده چې دیوه پیل اودبل پای، بلکې دایو پېچلی تعامل دی.

په مجموع کې ادبي تطورد زړو او نویو بهیرونو د تګ راتګ او تعویض نا پایه پروسه ده. د وروستي وخت راڅرګند شوي ښوونځي نسبت پخوانیو ته نوي دي او نسبت راتلونکو ته زاړه دي. د نوي او زاړه تر منځ د توپیرونو حتی

تناقضونوبا وجود، د پلارولی او زوی ولی (تقدم او تأخر) مراتب موجود دي. د دغه واقعیت نظر کې نیول، دنوي اوزاړه ښوونځي ترمنځ د تړاو او توپیر پوهېدنه آسانوي. زموږ د نوي ادب او په هغه کې د پښتو د انقلابي شعر د ښوونځي موقعیت هم کټ مټ په همداسي یوې لړۍ پورې تړلی دی.

انقلابي شعر د ټولنیز انقلابي بهیر برخه ده، مفهوم یې د نوي او متعالي کلام د هستولو، پراخولو، پاللو او د نیاومنو ټولنیزو مناسباتو د برې ملاتړ دی. ځانګړې دنده یې دزړو اندېښنو او د فیوډالي نظام له غیر انساني ثقافت سره مبارزه اونوي نسل ته دنویو متعالي او انساني ارزښتونو پرخوا، لکه: وطنپالنه، آزادي،دموکراسي، عدالت، پرمختګ، سوکالي، وروري او برابري، د لیدلوریو پراخول دي.

سرمحقق محمد صدیق روهي د افغانستان په ځانګړو شرایطوکې دغه مطلب د اوښتون(انقلاب) دوخت د ادبي ښوونځي په اړه داسي بیان کړی دی:«ددغه وخت د شعرونو، کیسو،کره کتنو، او ادبي څېړنو محوري مفکوره د فیوډالیزم او امپریالیزم پرضد او د ټولنیز عدالت، ترقي، سولې او انترناسینالیزم دپاره مبارزه وه.»(روهي.د پښتو ادبیاتو تاریخ).

نوښت که په بڼه کې وي که په منځپانګه کې، د شعر کمال باله شي، خو هغه باید دشاعر له ذهن څخه لکه د چینې اوبه په طبیعي ډول راوخوټېږي، ګواکې دقریحې او ابتکار نتیجه وي، نه دتکلف او تحمیل. ابتکارتکلف ته سر نه ټیټوي او تش د اوچتې قریحې او الهام په غوښتنه، د شاعر دروحي هیجان په لړوکړکیو کې را څرګندېږي. خوکه چېرې نوښت انقلابي خصلت ولري له هغو عیبونو څخه به خوندي وي چې د ټولنې د نوي کېدو دپرمختګ سره ضدیت ښیي.

نوښت په په معاصر پښتو شعر کې تش د ثوردپا څون دمهال دشعر په انقلابي ښوونځي پورې محدود نه دی بلکې له هغه د بانديې د افغانستان د شعر د عمومي بهیرپه نورو رووونوکې

هم ځان ښيي. يوا ځې هغه جها دي ښوونځی چې د عربي وها بيا نو تر اغېز لاندې را منځ ته شوې، د خپلو سختو دريځونوپه وجه نوې منځ پا نگه نشي پا للای او دهنري انجماد او شا تگ ددريځ د خپلولو په دليل يې له نوښت څخه لاس وتلی دی ، دغه ښوونځی چې طالبان هم د هغه نه بېلېدونکې بر خه ده، دوديز ادبي اساسات او له هغه منځه ددغو ادبياتو منل شويې فلسفي او شعري مقولې ردوي او حتی د سنتي ادبي ارزښتونو دمسخ کولو لار تعقيبوي .د مثال لپاره به په کال ۲۰۰۱ ميلادي کې د شريعت د مجلې د مدير «ملا حنفي». اود هغه دمرستيال « ملااسداله » پېښه را ياد کړوچې اسلامي امارت په دې جرم بنديا ن کړي ووچې يو داسي شعر يې خپور کړی دی کوم چې د «می» او«ميخانې» او«زاهد » ذکر په کې شوی و.ددغې پېښې په خبرکې چې سترو بين المللي اژا نسونو نړۍ ته ورکړی و،ويل شوي وو:«طالبانو دغه کلمې د عالما نو او دين سپکاوی بللی دی .»

د طالبا نوا و نورو افراطي ډلو له لوري دملي ثقافت له دوديزو سنتي ارزښتونو څخه دا راز مخ اړونه هغه زيانمنه فرهنگي عارضه ده چې د دغه جهادي شعر پر خوځښت او پر مختگ باندې د توقف مهر لگوي او د دوی لاس د ملي دوديزوادبياتو له ميرا ثونواو تجربو څخه لنډوي. مثلا که دطالبا نو د ذکر شوې فيصلې په اساس، په شعر کې می، ميخا نه ،ساقي، صنم،خرابات او نورې هغه مقو لې چې دانسان دا حساسي او روحي احوالو د تصويرولو لپاره پېرۍ پېرۍ کارول شوې دي ، تحريم شي او دهغوی کارول داسلامي شريعت سپکاوی وبلل شي، هغه ټول شهکارونه به چې د وطن د تاريخ په اسلامي دوره کې ليکل شوي دي دبطلان مهر وخوري. ځکه چې دغه آثارکه پښتودي که عربي او که فارسي، په دغو مقولو ډک دي او د طالبانو دذهن مطابق د اسلامي عا لما نو او داسلام د مبارک دين د سپکاوي په هدف را منځ ته شوي دي . خود وهابي

SPINTA

ښوونځي په عکس، چې یوولاړ ښوونځی دی د انقلابي ښوونځي یوه مهمه ځانګړنه داده چې له ملي ادبي عنعنې څخه د نوی نسل د پردي کېدو دمخنیوي په هدف، د دودیزو ثقافتي میراثونو او په لومړي سر کې د دودیزو ادبي زیرمو په جذ بولو، ساتلو او پاللو کې خپل رسالت نه هېروي. څنګه کېدای شي د دودیزشعر پر قالبونو، مقولو، بڼیزو ځانګړنو او سترې تجربې باندې چې د پر له پسې نسلونو د نوابغو د ډله ایز کار نتیجه ده، کرښه راوکشل شي؟ دا یوه ستره لار ورکونه ده. زموږ په زمانه کې د ځینو هیوادونو او له هغه منځه د چین د ولسي جمهوریت د فرهنګي انقلاب تجربې وښووله چې دا لار رڼا ته نه وزي.

د افغانستان د شعر انقلابي ښوونځی، د دودیزو ادبیاتو او فرهنګ تجربو ته په مثبته توګه پاملرنه کوي. په دې ښوونځی کې د شعر نوې بڼې حتی الامکان د ملي شعر او مروجې ژبې پر پخو ستو باندې درول کېږي او په ټول کې د دودیزو قالبونو، وزنونو، بڼیزو ځانګړنو، بدیعه صنایعو او دزاړه شعر تجربو ته، د زده کړې او ممارست د یوې سترې لار ښوونکې مدرسې په ستر ګه کتل کېږي.

نوي شعر د دودیز شعر بې څراغه رڼا ته لار نشي ایستلای. بې دوده ابتکار د خلکو له فهم څخه جلا کېدل دي او بې ابتکاره دود په وراسته ډنډکې د ډوبېدلو معنا لري. د نوي شاعر برې په دې پورې تړلی چې دغه د نوي شعر هستوونکی، په هغه ښوونځي کې چې دی لار ترې بېلوي، څومره تبحر لري او ټولنیزه اړتیاد ابتکار لپاره دده څومره ملاتړ کوي!

اروا ښاد فیض احمد فیض د پاکستان انقلابي شاعر چې د معاصري نړی په سترو شاعرانو کې حساب دی، د منثور شعر په باره کې (چې د ځینو په نظر نوی شعر بلل کېږي) ویلي دي: «تر څو د دود پر بنیاد تجربه ونکړي برې ته به ونه رسېږي. په دودونو کې د پېړیو تجربې پرتې دي او په هغوی کې د خلکو خوښې او غمونه څپې وهي. له دودونو څخه مخ اړول د پر مختګ معنا

نلري.» فيض دشعرنوی فورم نه ردوي، خو د شعر دنوښت لپاره يې شرط نه بولي. دی يواځې نوی مضمون دنوي شعرخامخا يې شرط ګڼي اوښايي دهمدې رجحان په وجه به وي چې دې ستر شاعر خپل ټول شهکارونه په دوديز فورم کې (موزون او مقفا) خصوصا د غزل په بڼه ليکلي دي.

زه له اروا ښاد فيض احمد فيض سره زموږ دمشترکې فرهنګي جغرافيايي سيمې د دوديز شعر د ميرا ثونو او برکاتو په تاييد کې هم غږي يم، خو داسي نګېرم چې فيض د نوي فورم په ضرورت او اهميت باندې يوڅه سترګې پټې کړې دي، يا ښايي دا به دهغو متشاعرانو په باره کې دده يو غبرګون وي چې شعري قريحه نلري او د نوي شعر په پلمه چټيات ليکي. په دوه زرم ميلادي کال پښتوژبې شاعرباري جهاني هم دپښتو منثور شعر په هکله له بي بي سي سره په مرکه کې ويلي وو:«دوی داسي شعرونه ليکي چې د پوهېدو وړ نه دي، زه په خپله هم نه پې پوهېږم. د ايرانتيا خبره داده چې دوی دغه شعرونه چا ته ليکي؟». واقعيت همدغه دی چې جهاني يې وايي، خو بايد دمقفا او موزون شعر شاعران داهېر نکړي چې په پښتو منثور شعر کې د ناوړه نمونو موجوديت، دا نه ثابتوي چې منثور شعر له سېلمې شعر نه دی. ناوړه او ناسمې نمونې خو په مقفا او موزون شعر کې هم کمې نه دي. دادبياتو ټول تاريخي بهيرونه د«ښه،نا ښه» «کره، ناکره» او د«مبتکر، مبتذل» په موازي نمونو ډک دي. که د لوړ په مقابل کې ټيټ موجود نه وای، د غوره او ناغوره شعرتو پيربه په کوم معيا رونو کېده؟

د افغانستان د لوړې کچې ادب پوهان لکه سر محقق روهي، دوست شينواری اودوکتور لطيف بهاند د افغانستان د انقلابي ادبياتو ښوونځي ته د سوسيالستي رياليزم نوم ورکوي او هغه د انتقادي رياليزم له ښوونځي څخه راولاړ شوی ښوونځی بولي، روهي صاحب او دوست صاحب خو ددغه

SPINTA

ښوونځي په هستونه کې د(اخ د ګ) مستقل اغېزته هم قایل دي خو زما خپله نګېرنه داده چې که څه هم د ثور تر انقلاب را وروسته دشعر د انقلابي ښوونځي په وړاندې د پر مختګ لپاره یو څه مساعد شرائط رامنځ ته شول او هغه ته یې دپراختیا او کمال مخه ورکړه ،خوهغه تش دګوند د سیاست زېږند نه دی. داسي یوه نګېرنه موږ ناسمي نتیجې ته رسوي. زما په عقیده دا ښوونځی د بیداری د هغه ادبي خوځښت نتیجه ده چې له اماني نهضت څخه پیل شوی، د ملي شورا په اومه دوره کې ځانګړی شوی او دثور د انقلاب په مهال اوسني پړاو ته رسېدلی اود شعر د انقلابي ښوونځي په نوم پېژندل شوی دی .یا په بل عبارت د پښتو شعرانقلابي ښوونځی لکه نورښوونځی د دولتونو اوسیاسي ډلو د ملاتړ او مخالفت ورهغه خوا، دافغاني ټولنې د ودې او اوښتون د مجموعي بهیرونو یوه قانونمنه پایله ده.

دا و د نوي اوزوړ، انقلابي او نا انقلابي پښتو شعر په باره کې یو لنډ ،سرخلاصوونکی وضاحت ،اوس به د مفتاح الدین «ساپي» د ټپونو ډالی ته چې تر اوسه پورې په پښتو ادب کې دانقلابي شعر د ښوونځي وروستنی دفتر دی سر ور ښکاره کړو.

## په انقلابي ښوونځي کې د ساپي دشعر بڼه او بیان

د مفتاح الدین ساپي دشعر دغه دفتر چې دده په ادبي هلو ځلو کې، دده دشعر لومړی مدون اثر شمېرل کېږي، دافغانستان د پښتو شعر د انقلابي ښوونځي په لیکه روان شوی دی. دفتر دهغو کړاوونواوحقایقو بیان ته وقف شوی چې دثور دانقلاب له ستونځمنواوسله والو شخړو څخه رنګــ اخلي.

په منظوم پښتوادب کې د ساپي دا دفتر د خپل ځانګړي بڼیز جوړښت ورهغه خوا، دافغانستان د انقلاب په مهال د راپاڅېدلو او ځورېدلو خلکو د ژوند یو مصور نندارتون

SPINTA

ته ورته دی.

ددغه ننداړتون دشعرونو په کړکیوکې دیوه را پاځیدلي وطن دویاړونو، کړاوونو، ترخو ماتو، تلپاتي بشري ایډیالونو اوشهیدو ارمانونوتمثالي تصویرونه نندارې ته وړاندې شوي دي. په ځینې کړکیوکې نړېدلي کلي، سوي کورونه او دیتیم شوي هیواد سر گذشت بیانېږي:

«کلي ته ولاړم، ببېتې بيايان و
تاړاکئ تېر شوی پر مال اوځان و
پر اننگو مې اور اوښکې راغلې
آشنا مې تللی کورگی يې وران و»

(تالا شوی کلی.مخ۳۸)

د ښوونځي پر تړلې کړکی باندې داسي ليکل شوي دي:

«يو وخت له دې ښوونځي نه
د ماشومانو خندا راتله
خو نن له دغه ورغالي نه
دلېوانو انگولا راځي »

(ښوونځی، مخ ۳۴)

په ننداړتون کې دننه د (بار بکو) په کړکی کې لا ندینی تصویر نندارې ته اېښوول شوی دی :

« داپاچي کبابي د «کلستر» په جامونوکې د وينو شرا ب وېشي ».

په يوه بله کړکی کې شاعر له يوه انځور گرځخه غوښتنه کوي چې:« د ليوناردو دونچي» د« موناليزا»د تصوير په چوکاټ کې د «اناکوندا» تر گوزارونو لاندې ديوه ماشوم ترمې ترمې غوښې له خاورو ځخه د راټولېدو په حال کې، انځور کړي .»

د ننداړتون د شهيدانو په کړکی کې ،د«لمر پلټونکو» تر راځوړندو شويو جسمونو لاندې ليکل شوي دي:

SPINTA

«د لمر په لټه په یون رهي شول
د شپې په کوړم کې واړه ستي شول
تکل یې دا و چې لمر پخلا کړي
رڼا غوښتونکي ټول بلهاري شول»

(د پلټونکو پای، مخ۳٦)

د ننندار تون د عودت کوونکو په ځانګړې کړکی کې، دملي ځلیو او نرخونو د برباد ۍ دننداریینې لپاره، دعبرت اخیستلو ترټولو بوګنوونکی انځور داسې وړاندې شوی دی:

«... دکلي مړستون ته لاړم ،
ماوې دمور او پلار زیارت به وکړم،
خوکېځونه(قبرونه) لوځ وو،
او هډونه یې د هډوکو پر سوداګرو پلورل شوي وو.»

د ننندارتون په پای کې د ننندا چیانو د یادګاري لیکنو د کړکی ځخه د وتلو پر دروازه داسې لیکل شوي دي:

«بر خه لیکځ هغه وخت بد لیږ ي
چې لومړی «اند دود» بدل شي
په زړو ، ورستـــــو سندرو
د ولسـونو ، هیــوا دونــو
د تندي لیکځ نه سمیــږي»

د ټپونود ډالی زیا تره شعرونه له سولې، سوکا لی، له هیواد اونړۍ سره د مینې په څرګندولوډکځ شوی او له نوع پا لنې، انصاف، او دخلکو له یو والي سره لېونی مینه او لېوالتیا ښیي.ددې په خلاف، نا سړیتوب،ښکېلاکځ، زبېښناکځ،جګړه، توپیر پالنه او پردی غلامی محکوموي.

د شعر ژبه یې سا ده او سپېځلې ده خود شمال ختیځو پښتنو ترمنځ دمروجو الفاظو او ترکیبونود کارولو په وجه یې لوستونکو ته دتأمل ضرورت رامنځ ته کړي دی.

دوزن له پلوه ساپي داسي تګ توګه خپله کړې ده چې هر راز وزن ته لاره ورکوي خو دهېڅ يوه التزام هم نه کوي. ده ددې ډالی په شعرونوکې عروضي، نيم عروضي، فلکلوري اوزان او بې وزنه قافيه لرونکې قالبونه او حتی دمنثورشعربې وزنه فورم هم کارولی دی. ده ددې آسانه اوميسرې بڼې دخپلولو په وجه دقافيې او اوزانو دانتخاب ستونځمنه لاره چې د هنرې فکر دالوتنې فضا تر فشار لاندې راولي، ځان ته هواره کړې ده. زما په فکر، دخيالونو دتصويرولو اوحسي کولو دآسانولو لپاره له بڼې سره دساپي په طريقه عمل کول يو ابتکار دی، دوزن دغوراوي په برخه کې دغه تګ توګه له شاعر سره د نويو خيالونو په پيدا کولو او پاللو کې مرسته کوي. که څه هم ساپی صاحب په شعر کې دتجربې دليږوالي په سبب د زړور پر مختګ زړه نه کوي اونګوښي. خوزه دی په دې ډېر نه ګرموم دا ځکه چې دشعر دعنعنو خپلول او بيا دهغوی نوي کول پېچلې تمرين دی او پوره ادبي صلاحيت غواړي. زمونږ د هيواد د تېرو دېرشو کلونو شعري تجربې داوښوولې چې څنګه دنوي وزن د مخکښانو ځينې وګړي ببرته پر شا وګرزېدل او د غزل دقلندرانو لمن يې ونيوله.

د ساپي دټپونو پرډالی باندې پورتنی خبرې کافي بولم، باور لرم چې دپښتو ادب مينان به دغه اثر دوطن دانقلاب د تاريخي خوځښت ديوه رياليستي هنري انعکاس په توګه ونګېري.

رياليست شاعر بايد دشراوتولنيزې بېعدالتی په را پرزېدو باور ولري او په دې معتقد وي چې نېکي او حقيقت بري ته رسېدونکي دي. پر دغه اصل اعتقاداو په عمل کې د هغه پر لاره تګ د هنرمن امکانات پراخوي او له ده سره مرسته کوي چې دپر مختګ پر پيښو باندې اغېز وکړي.

سليمان لا يق

۱۲ر۱۰ر۲۰۰۴